هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۸۵) ماه ربیع الاول ۱۴۴۶ هـ ق مطابق سنبله ۱۴۰۳ هـ ش

**علم و دانش**
کلیدی است که تمام درها
با آن باز می شوند.

# دیدار سرپرست وزارت معارف با هیئت سفارت قطر مقیم کابل



محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف با آقای مردف القاشوطی مشاور سفارت قطرمقیم کابل در دفتر کاری شان ملاقات نمود.

در این دیدار سرپرست وزارت معارف با اشاره به مشترکات ملت‌های مسلمان هر دو کشور صحبت نموده و از کمک های صفحه۲

## سفر سرپرست وزارت معارف به ولایت لوگر

محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف در حالی که شماری از کارشناسان نیز اورا همراهی می کرد به هدف بررسی وضعیت تعلیمی ولایت لوگر عازم آن ولایت شدند.

سرپرست وزارت معارف در نخست با الحاج عبدالرحمن حمیدی رئیس و مسئولین معارف آن ولایت دیدار نموده و سپس در جلسه ی که شماری زیادی از مسئولین ریاست معارف آن ولایت آمرین، مدرسین صفحه۲



## د پوهنې وزارت سرپرست د مرکز او ولایتونو له پوهنې رئیسانو سره د ویډیو کنفرانس له لارې غونډه وکړه

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا د ویډیوکنفرانس له لارې د مرکز کابل ښار او ولایتونو له پوهنې رئیسانو سره د ښوونیز نظام په برخه کې د یو شمېر مهمو مسایلو په اړه خبرې او نظرونه تبادله کړل.

په پیل کې د پوهنې وزارت سرپرست د پوهنې ریاستونو د دندو لنډ راپورونه واورېدل او د هغوی د پرمختګونه یې وستایل او د ستونزو په اړه یې لازمې لارښوونې وکړې.

دغه راز نوموړي د اداري او تدریسي چارو د لاښه والي په موخه، ولایتي مسئولینو ته د چارو د لاښې سمبالتیا په موخه لازمې لارښوونې وکړې او له هغوی یې وغوښتل، چې د اړوندو ولایتونو د ټولو تعلیمي بنسټونو له کتابتونونو څخه په هر اړخیزه توګه څارنه او ارزونه وکړي.

د پوهنې وزارت سرپرست زیاته کړه: ټول هغه کتابونه چې د اهل سنت والجماعت او حنفي فقهاوو له عقایدو سره په تضاد او ټکر کې وي راټول او راپورونه یې مرکز ته راولېږي.

ورپسې د پوهنې رئیسانو هر یو په خپل وار سره د پوهنې وزارت د مشرتابه د لارښوونو د عملي کولو ژمنه وکړه، چې ژر تر ژره به د کتابتونونو څارنه او پلټنه پیل کړي او راپور به یې محترم مقام ته وسپاري.

## د پوهنې وزارت د تېر یو کال عمده لاسته راوړنو ته لنډه کتنه

پوهنې وزارت په هېواد کې یو له مهمو او کلیدي وزارتونو څخه دی، چې د عمومي پلان او تګلارې له مخې، د محمدي شریعت د احکامو او د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د ښوونې او روزنې د تعمیم بنسټیز مسئولیت په غاړه لري.

پوهنې وزارت خپلې ټولې کړنې په دریو برخو کې په لاندې ډول په عملیاتي پلان کې شاملې کړې دي، ترڅو د هېواد د ټولو ښوونیزو او روزنیزو ستونزو د هوارۍ په موخه د افغانستان د مجاهد پرور ه او علم دوست ملت آرمانونه پوره کړي.

۱- زده کړو ته د هېواد د بچیانو متوازن لاسرسی

۲ـ کیفیت او مطابقت ۲ مخ

## سرلیکنه

### د هېواد پرمختګ د علم او پوهې په وده پورې تړلی دی

که د نړۍ د ځینو پرمختللو هېوادونو تاریخ ته پام وکړو دا به راته جوته شي چې اوسنیو پرمختللو هېوادونو هم څو پېړۍ مخکې له سختو سیاسي ، ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان وو خو د وخت په تېرېدو سره کله چې یې وکړو د علم او پوهې لاسته راوړلو ته لومړیتوب ورکړ نو د پوهې د رڼا په برکت یې په لنډه موده کې خپل هېوادونه له تورو تیارو او ترږمیو بهر او د پرمختګ او ترقۍ په لور یې سوق کړل چې اوس دغه هېوادونه د ساینس، تخنیک او د نوي ټکنالوژۍ له پلوه ښې لاسته راوړنې او پرمختګونه لري او اوسېدونکي یې د دغه ټکنالوژیو څخه د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې هر اړخیزه ګټه اخلي ۲ مخ

## په کاپیسا کې د یوه ښوونځي ودانۍ ورغول شوه

د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ اړوند په پچغان کلي کې د خالد بن ولید په نوم د یوه ښوونځي ودانۍ د سیمې د یو تن علم دوسته اوسېدونکي په مالي مرسته ورغول شوه.

د کاپیسا ولایت د پوهنې ریاست چارواکو په وینا د یاد ښوونځي هارون نظري لخوا د یو میلیون او ۸۰۰ زره افغانیو په لګښت رغول شوې ، د یاد ولایت د پوهنې ریاست د چارواکو په وینا ددې ښوونځي د ودانۍ په رغېدو سره د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې سالم او خوندي چاپېریال برابر شوی.




ودانۍ ۵ درسي ټولګي، یوه اداري خونه او نور ملحقات لري چې د سیمې د یوتن اوسېدونکي محمد هارون نظري لخوا د یو میلیون او ۸۰۰ زره افغانیو په لګښت رغول شوې ، د یاد ولایت د پوهنې ریاست د چارواکو په وینا ددې ښوونځي د ودانۍ په رغېدو سره د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې سالم او خوندي چاپېریال برابر شوی.

په هغه غونډه کې چې له همدې امله د دې سیمې د لسګونو علماء کرامو، سپین ږیرو او قومي مشرانو په ګډون جوړه شوې وه د کاپیسا ولایت د پوهنې رئیس مولوي محمد فرید حقاني د یاد ښوونځي د جوړېدو په برخه کې د نجراب ولسوالۍ ددغه علم پروره هېوادوال له مرستې مننه وکړه، او له نورو شتمنو هېوادوالو یې هم وغوښتل چې د ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو هم د خپلو خبرو په ترځ کې د یاد هېوادوال له مرستې مننه وکړه او دا یې د علم او پوهې په وده کې مثبت اقدام وباله.

د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې هم د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې علم دوسته هېوادوالو د ښوونځیو رغولو او بیا رغولو کې مالي مرستې کړې چې د پوهنې وزارت لخوا یې قدرداني شوې.

## افتتاح یک باب لیلیه دارالعلوم در بامیان



لیلیه دارالعلوم «اتفاق» در مرکز ولایت بامیان از سوی والی و مسئولین ریاست معارف ولایت یاد شده طی مراسمی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مسئولان در ریاست معارف آن ولایت میگویند لیلیه یاد شده ظرفیت ۵۰ تن شاگردان را داشته که اعاشه و اباته ۲۴ ساعته آن از بودجه وزارت معارف تمویل می گردد.

الحاج مولوی عبدالله سرحدی والی و مسئولین معارف ولایت بامیان هریک از اهتمام وزارت معارف به تعلیم و تربیه سالم اولاد وطن وعرضه خدمات تعلیمی متوازن در کشور اطمینان دادند.

## سنگ تهداب ساخت تعمیر یک باب مکتب در فاریاب گذاشته شد

سنگ تهداب ساخت تعمیر یک باب مکتب در روستای غوره ولسوالي قیصار ولایت فاریاب که یکی از دور افتاده ترین قریه های این ولسوالی به شمار می رود طی مراسم از سوی الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف آن ولایت و شماری زیادی از اهالی منطقه، بزرگان قومی، محاسن سفیدان و علماءٰ کرام گذاشته شد. قرار است تعمیر مکتب یاد شده که دارای شش صنف درسی و دو اطاق اداری با سایر ملحقات آن به شمول نصب سیستم آبرسانی و برق آفتابی به هزینه ی چهار میلیون و ۸۳۰۰۰۰ هزار افغانی که از سوی یک نهاد همکار با معارف پرداخت می گردد در مساحت چهار جریب زمین ساخته شود که با ساخت تعمیر مکتب یاد شده زمینه فراگیری آموزش برای صدها تن از باشنده گان این محل فراهم خواهد گردید.

در گردهمایی که به همین منظور راه اندازی شده بود سخنرانان از اهتمام رهبری وزارت معارف در راستای بسط و توسعه معارف در سراسر کشور اظهار قدردانی نموده و حمایت شان را از نظام تعلیمی کشور اعلام داشتند.

گفتنیست که در سه سال گذشته ده ها مکتب و مدرسه در ولایت های مختلف کشور به همکاری مردم و تجار ملی ساخته شده است که با ساخت این مراکز آموزشی زمینه فراگیری آموزش برای هزاران تن از فرزندان کشور فراهم گردیده است. رهبری وزارت معارف نیز کمک های مردم به معارف را به دیده قدر نگریسته و از هموطنان معارف دوست برای حمایت همیشه گی شان از معارف کشور استقبال و تشکر می نماید.

### دیدار سرپرست وزارت معارف با ...

کشور قطر در تقویت نظام معارف افغانستان سپاسگزاری نمود.

سپس آقای مردف مشاور سفارت قطر مقیم کابل کارکرد های وزارت معارف را ستوده و در راستای کمک به معارف افغانستان وعده همکاری سپرد. در پایان این دیدار سرپرست وزارت معارف خواهان حمایت های بیشتر کشور قطر از نظام تعلیمی افغانستان شد.

### سفر سرپرست وزارت معارف به ...

و معلمین حضور داشتند شرکت نمودند.

در آغاز رئیس معارف ولایت لوگر تشریف آوری سرپرست وزارت معارف را خوش آمدید گفته، گزارش مختصر کارکرد ها و دستاورد های آن ریاست را به حضور هیئت ارائه نمود که از سوی رهبری وزارت معارف استقبال شد.

سرپرست وزارت معارف در این سفر از لیسه حضرت عمر فاروق (رضی الله تعالی عنه) مدرسه دینی فاروقیه و دارالایتام حضرت امیرحمزه (رضی الله تعالی عنه) دیدن نموده و وضعیت آموزشی آن را بررسی نمودند. مشکلات و پیشنهادات شاگردان و مسئولین را یادداشت نموده برای حل مشکلات شان وعده همکاری سپردند. همچنان شماری از شاگردان نهادهای آموزشی یاد شده را با اهدای پول نقد مورد تشویق قرار داد.

سرپرست وزارت معارف در سخنرانی شان در جمع شاگردان خطاب به آنان فرمودند: آینده تابناك وطن وملت به شما وابسته است پس لازم است که به دروس تان توجه جدی کرده تا مسئولیت های آینده تان را در قبال مردم و وطن به وجه احسن واخلاص کامل انجام دهید.

وی همچنان افزود: به مدرسین ومعلمین هم لازم است که اولاد وطن را به روحیه اسلامی تربیت نموده و در این راه تلاش خود را تسریع بخشند.

در خاتمه مدرسین، معلمین و علماء در کنار ارائه یک سلسله پیشنهادات، حمایت های شان را از تطبیق پلان ها و برنامه های این وزارت اعلام داشتند.

### د پوهنې وزارت د تېر یو کال...

۳- اغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت، چې په یادو برخو کې د ښوونې او روزنې، اسلامي زده کړو، سرچینو او ادارې او د کیفیت د تضمین په برخه کې ۴۱۳ فعالیتونه شامل دي، چې د ۱۹۱ فعالیتونو پلي کول یې د عمومي فعالیتونو په توګه د پروګرامونو په سر کې ځای لري.

د یادولو وړ ده چې د دغه وزارت په تشکیل کې ۳۸۹ زره ۲۰۰ تنه شامل شوي چې له دې ډلې څخه ۲۴۱۱۲۱ تنه ښوونکي او پاتې نور یې اداري او خدماتي کارکوونکي دي. په روان کال کې په ټولیزه توګه ۱ مېلیون ۴۴۵ زره ۸۴۰ تنه نوي زده کوونکي په رسمي او خصوصي ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو کې شامل شوي، چې په دې توګه د هېواد په رسمي او خصوصي ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو کې د زده کوونکو شمېر ۱۰ مېلیونه ۹۱۴ زره تنو ته رسېږي، چې په ۱۸ زره ۳۳۷ بابه رسمي او خصوصي ښووونځیو کې په زده کړو بوخت دي.

همدارنګه مجموعاً ۱۲۳ بابه ښوونځي او ۱۵۹ بابه کلیوالي ټولګي د کوچیانو لپاره ځانګړي شوي دي چې په وسیله یې ۴۱ زره ۸۲۴ تنه کوچیانو ماشومانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده.

د عمومي زده کړو تعلیمي نصاب تر شپږم ټولګي پورې کتل شوی او لازم اصلاحات پکې راوستل شوي دي.

له لومړي تر شپږم ټولګي پورې د درېیمو ژبو (ګجري، اوزبیکي، پشه یي، شغناني، نورستاني او ترکمني) درسي کتابونه کتل شوي او اصلاحات په کې راوستل شوي

د عمومي زده کړو د درېیمو ژبو له لومړي تر نهم ټولګي پورې د ښوونکو لپاره د لارښود ۴۸ عنوانه کتابونه کتل شوي او لازم اصلاحات پکې راوستل شوي.

ټولټال ۱۶ مېلیونه ۱۸۸ زره ۹۳۹ ټوکه درسي کتابونه چاپ او د هېواد په مرکز او ولایتونو کې ښوونیزو بنسټونو ته وېشل شوي او ۶۱۷ زره ۹۷۸ ټوکه درسي کتابونه د هېواد د اسلامي زده کړو بنسټونو ته وېشل شوي دي.

په همدې توګه په ټول هېواد کې د اسلامي زده کړو ۲۱ زره ۲۵۷ بابه مرکزونه تأسیس شوي، چې په دغو بنسټونو کې ۳ مېلیونه ۶۸۷ زره ۲۰۰ تنه طالب العلمان په زده کړو بوخت دي.

د یاد وزارت په ډېری ادارو کې د اسنادو د ثبت ډیجیټل سیستم جوړولو کارونه بشپړ شوي، چې د کارکوونکو د سوانحو، د زده کوونکو د نتایجو او شهادتنامو ثبت او بریښنایي کول یې د بېلګې په توګه یادولای شو.

دغه راز د آزموینو په بهیر کې د لا زیاتې روڼتیا په موخه د لومړي ځل لپاره د پوهنې وزارت په اداره کې د معیاري آزموینو بورډ تأسیس او په فعالیت یې پیل وکړ.

د پوهنې د لویو او بنسټیزو ستونزو د پېژندنې په موخه د علمي څېړنو بهیر ته ۱۳۷ موضوع ګانې ځانګړې شوې او د لسو څېړنیزو موضوعاتو پایلې په مرکز او ولایتونو کې اړوندو ریاستونو ته استول شوې ده. د پوهنې وزارت قانون تسوید، تخریج او عدلیې وزارت ته استول شوی دی.

د دیني مدرسو د تأسیس، مدرسینو د ثبت او استخدام قانون ترتیب او تر توشیح وروسته نافذ شوی دی.

د پوهنې د کارکوونکو د معاشونو د بانکي کولو پروسه بشپړه شوې او ۴ مېلیونه افغانۍ د هېواد په څلورو ولایتونو کې د ښوونکو د پورونو صندوقونو ته استول شوې دي، په داسې حال کې چې تر د مخکې د هېواد په ۸ ولایتونو کې د ښوونکو لپاره د پورونو صندوقونه فعال شوي او په پلان کې ده چې په ۸ نورو ولایتونو کې یې هم فعالیتونه پیل شي.

په همدې موخه د پوهنې وزارت یو ځل بیا د افغانستان مجاهد پرور ملت او د علم او ادب مینه والو ته ډاډ ورکوي، چې په ټول هېواد کې د متوازنو او با کیفیته ښوونیزو او روزنیزو چوپړونو وړاندې کول یې په خپلو کاري لومړیتوبونو کې ځای لري.

### د هېواد پرمختګ د علم او پوهې په ...

او هوسا ژوند لري. دا یو څرګند حقیقت دی چې ترقۍ او پرمختګ ته د رسېدو یوازینۍ لار په هېوادونو کې د ښوونې او روزنې عامول او عصري کول دي ځکه چې یو پیاوړی ښوونیز نظام کولی شي د یوه هېواد په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کې اغېزمن بدلون را منځ ته کړي. له بده مرغه چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې تېرو څلورو لسیزو ناخوالو زموږ د نورو بنسټونو تر څنګ د علم او پوهې بنسټونه هم سخت زیانمن کړي چې له امله یې زموږ یو زیات شمېر هېوادوال د زده کړو له نعمت څخه بې برخې پاتې شول، خو ددې خاورې مېړنی ولس ددغه ستونزو سره سره بیا هم نه یوازې د علم له زده کړې سره بې ساري مینه او علاقه لري بلکې د ښه استعداد لرونکي هم دي چې هر کله دوی ته لږ زمینه برابره شوې نو په ملي او نړیوالو سټېجونو کې یې خپل استعداد نړیوالو ته په ننداره ایښی او د افغانستان نوم یې ځلانده کړی. دا یوازې د علم په برخه کې نه بلکې په هره برخه کې زموږ د هېواد بچیانو خپل استعداد معلوم کړی او دا ثابته شوې که افغانانو ته زمینه برابره شي استعداد یې په نړۍ کې ساری نلري.

اوس چې د خدای جل جلاله په فضل او کرم په ټول هېواد کې اسلامي نظام حاکم او د سراسري سولې لمن خپره ده اسلامي امارت هم په هېواد کې تر هر څه د مخه د علم او پوهې ودې ته لومړیتوب ورکړی او پدې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي. که د پوهنې وزارت دری کلن مزل او لاسته راوړنو ته ځغلنده نظر وکړو دا به راته جوته شي چې پوهنې وزارت په دې کمه موده کې دومره پرمختګ کړی چې په تېرو کلونو کې یې ساری کم تر سترګو کېږي. په تېرو دریو کلونو کې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سلګونو مدرسو او ښوونځیو جوړول، په میلیونونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ کول، په ټول هېواد کې د ښوونې او روزنې له پروګرامونو د ولس پراخ ملاتړ او د یادو پروګرامونو په پلي کولو کې د پوهنې وزارت سره مالي او معنوي مرسته، د کلونو کلونو را په دېخوا د مدرسو او ښوونځیو تر منځ هغه واټن چې د تېرو حاکمانو د مغرضانه او شومو اهدافو په موخه را منځ ته شوی وو د یو منظم پلان له مخې ددې واټن له منځه وړل او په لسګونو داسې نورې لاسته راوړنې یادولی شو.

پورته ټکو ته په کتو سره ویلای شو چې د خدای جل جلاله په مرسته د پوهنې وزارت په نه ستړې کېدونکو هڅو او د علم او پوهې څخه زموږ د ځوانانو او هېوادوالو پراخ ملاتړ د هېواد د یو روښانه راتلونکي زیری ورکوي، لېرې نده چې د دینې او عصري علومو په ګانه سمبال ځوانان به مو هېواد له ټولو بدبختیو ژغوري او ګران هېواد به مو د همدې ځوانانو پر مټ د ترقۍ او پرمختګ تر لوړو څوکو پورې رسېږي. ان شاء الله.

### سفر هیئت ریاست دعوت و ارشاد ...

محترم مولوی محمد نعیم عمیر تصریح کرد: اطاعت از اوامر آمرین بالای ما واجب بوده و از کارمندان خواست تا کار های یومیه خود را به وجه احسن انجام بدهند و با مراجعین برخورد نیک داشته باشند. وی همچنان از مسئولین خواست تا همه روزه نصاب ترتیب شده ریاست دعوت و ارشاد را برای معلمین و شاگردان تدریس نمایند.

در پایان این نشست رئیس معارف ولایت پکتیکا به مسئولان ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف در رابطه به تطبیق برنامه های اصلاحی در مراکز آموزشی وعده یی همکاری داد.

## گشایش مرکز خدمات مراجعین در ریاست عمومی اداری وزارت معارف

مرکز خدمات مراجعین در ریاست عمومی اداری وزارت معارف طی مراسم با حضور محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف، محترم شیخ نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، شماری از معینان، روئسای ادارات مرکزی و کارمندان این وزارت گشایش یافت.

در این مراسم محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سر پرست وزارت معارف ضمن خرسندی ازاین اقدام کارمندان ریاست عمومی اداری، گشایش مرکز خدمات مراجعین را در فراهم سازی تسهیلات کاری، جلوگیری از سرگردانی و ضیاع وقت مراجعین و هم تامین شفافیت در اجرای اسناد مراجعین ارزشمند خواند.

هم چنان رئیس عمومی اداره امور ایجاد سیستم های جدید در ادارات را گام مهم در راستای فراهم شدن تسهیلات لازم به مراجعین دانسته گفت: نظام اسلامی برای ساخت و بهبود بنیاد های اساسی کشور اراده محکم دارد.

سپس محترم مفتی محمد یوسف ثاقب رئیس عمومی اداری وزارت معارف در رابطه به چگونه گی فعالیت سیستم مرکز خدمات مراجعین معلومات داده افزود: که در آینده نزدیک تمامی سیستم های این ریاست الکترونیکی خواهد شد که در راستای آسان سازی روند اداری دستاورد بزرگ میباشد.

در این مراسم کارمندان که در ایجاد سیستم یاد شده نقش فعال داشتند و از خود شایسته گی نشان داده بودند از سوی رهبری وزارت معارف با اهدای تقدیر نامه ها مورد تشویق قرار گرفتند.

## د پوهنې وزارت د تحقیقاتو نوی رئیس معرفي شو

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق په داسې حال کې چې د یاد وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو او د تحقیقاتو ریاست کار کوونکو هم حضور درلود، محترم مولوي سید حفیظ الله آغا د پوهنې ریاست د تحقیقاتو د رئیس په توګه د یاد ریاست کارکوونکو ته معرفي کړ.

د کیفیت تضمین معین د خپلو خبرو په ترڅ کې د کارکوونکو پر کاري نظم او ډسپلین د ټینګار ترڅنګ، د مسئولینو دندې امانت وګڼلې او د تحقیقاتو نوي رئیس ته یې د چارو په ترسره کولو کې د بریالیتوب هیله وکړه.

د تحقیقاتو رئیس محترم مولوي سید حفیظ الله آغا هم د پوهنې وزارت د رهبرۍ له باور څخه د مننې په ترڅ کې ژمنه وکړه، چې د مسلکي پوهې او کاري تجربې څخه په استفادې سره به پخپلو ورځنیو چارو کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

## بدخشان کې د یوې دیني مدرسې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې

د بدخشان ولایت د خواهان په ولسوالۍ کې د سیمې د یو تن دیني عالم او دینداره شخصیت له لوري د ۲ میلیونه او ۷۰۰ زره افغانیو په لګښت د (دعوة القرآن و السنة) په نوم دینې مدرسې چې ۳۳ کاله مخینه لري د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې.

د بدخشان ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا یاده ودانۍ د ۶ درسي خونو او نورو اړینې آسانتیاوو په درلودلو سره په دوه جریبه ځمکه کې جوړېږي چې په جوړېدو سره به یې د سیمې په سلګونو تنه طالب العلمانو ته د زده کړې مناسب چاپېریال رامنځ ته شي.

د سیمې اوسېدونکي هم د یادې مدرسې د ودانۍ په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او له نورو شتمنو هېوادوالو یې هم غوښتنه وکړه چې د علم او پوهې بنسټونو په جوړولو کې مرسته او همکاري وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرو دریو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د پوهنې وزارت له لوري او د خلکو په مالي ملاتړ په لسګونو دیني مدرسې او ښوونځي جوړ او د هېواد په سلګونو زره زده کوونکو او طالب العلمانو ته په کې د زده کړو زمینه برابره شوې.

## بندکجکی

بند کجکی (Kajakai Dam) یکی از جاهای دیدنی افغانستان به شمار می‌رود که بر روی دریای هلمند (Helmand)، معروف کشور افغانستان، احداث شده است.



بند یا سد کجکی در گذشته برای آبیاری زمین‌های خشک کاربرد داشته است، هم‌چنین در گذشته از این سد برای تولید برق نیز استفاده می‌شده است.
آبی که از سمت این سد راه می‌افتد تا فاصله ۵۰۰ کیلومتر در کانال‌های زراعتی مناطق اطراف آن در جریان است.
این سد بر روی دریای هلمند، در ۱۶۱ کیلومتری شمال باختری شهر قندهار واقع شده است.

## ارگ هرات

ارگ هرات از معروف‌ترین جاهای دیدنی افغانستان به شمار می‌رود که در دسته آثار تاریخی این کشور نیز قرار دارد.
جالب است بدانید که ارگ هرات، عنوان قدیمی‌ترین



بنای هرات را از آن خود کرده است.
ارگ هرات از گذشته تا سال ۲۰۰۵، کاربری نظامی داشته است؛ به این‌صورت که زندان و پایگاه نظامی بوده است، اما در سال ۲۰۰۵، این بنای تاریخی در اختیار وزارت اطلاعات، فرهنگ و گردشگری، قرار گرفت. این قلعه در قسمت شمالی شهر، در بین محله قطبی‌چاق و محله بردرانی ها واقع شده است.

## ناسا په فضا کې د لیزري ارتباطاتو بریالۍ تجربه وکړه

ناسا په فضا کې د لیزري ارتباطاتو بریالۍ تجربه وکړه. د دې تجربې په لړ کې د لیزر د وړانګو په مرسته د یوې الوتکې ویډیو په نړیوال هوایي ډګر کې په لوړ ۴K کیفیت په ژوندۍ بڼه وښودل شوه.
تر دې وړاندې د فضایي ارتباطاتو یا د ډېټا د لېږد لپاره راډیویي څپې کارېدلې چې د ډېرې او چټکې ډېټا د لېږد وړتیا یې نه لرله، له دې امله به د فضا پیغامونه او ویډیوګانې په لوړ کیفیت نه ښودل کېدې.
ساینسپوهان وایي دا تجربه به سپوږمۍ، مریخ او نورو فضایي سفرونو کې د اوس په پرتله ارتباطات تر ۱۰۰ چنده چټک او قوي کړي.
یعنې دا چې اوس که سپوږمۍ ته سفر کېږي، له هغه ځایه راتلونکې ویډیو به په لوړ ۴k کیفیت پر ځمکه ښودل کېږي.

فرهاد علي مومند

# ښه او بد دواړه زموږ انتخاب دی

ممکن هر څه ښه او بد ولري، خو ته به خپل نظر په ښو ساتې، د انسان ذهني وده له همدې ځایه پیل کېږي او هغه څه خپلوي چې د نظر تمرکز یې پرې ډېر وي.
فرض کړئ، هغوی چې د نورو له پرمختګ څخه ویره لري، د خپل پرمختګ لپاره هم اندېښمن دي.
هغوي چې د نورو د ګټو پر وړاندې خنډ جوړېږي، د خپلو ګټو د ژغورلو لپاره وخت نه لري. هغوی چې تل د نورو تخریب کوي، د ځان د پیاوړتیا او پرمختګ توان له لاسه ورکوي.
"ژوند ستا خپل دی او انتخاب یې هم ستا خپل دی؛ خوښه دې چې ښه لوری یې انتخابوې او که بد لوری یې انتخابوې. مګر دا له یاده مه باسه چې د ښو پیل سخت دی او د بدو پای سخت ده."
یو ځای پښتو ژبې شاعر حفیظ همیم په لږ توپیر سره ذکر کوي چې:

خوشحالي او خپګان دواړه ستا په لاس کې دي همیمه
ژوند روان دی که هغه کړې او که دا کوې کوه یې

که څه هم ژوند انسان ته د ښو او بدو د انتخاب خوښه ورکړې ده، مګر د دې خوښې د تول لپاره یې هم ډېر عجیب ترتیب کړی دی.
بلعم ابن باعورا دنیا خوښه کړه، دنیا یې په تول کې ترې انسانیت واخیست، سپی یې کړ چې ژبه یې له خولې بهر پرته وه.
قارون د خپلې خوښې په خزانو نازېده، چې د ژوند تول سره د خپلو خزانو تر مځکې دننه کړ.
شیطان لویي انتخاب کړه، چې د ژوند تول عمر یې لعنتي وګرځېده.
اوس نو څه فکر کوئ. له سلو بدو خوښیو به یوه ښه ناخوښه ښه نه وي چې پر ځان یې ومنو. هم به مو د یوسف علیه السّلام په څېر د خزانو واک په برخه شي او هم به مو د ژوند تول په دومره آسانۍ وشي چې تر آخره به د خیر غوښتونکو انسانانو په ژبه یادېږو.
موږ پښتو کې یو متل لرو. وایي د درواغو مزل لنډ وي. که زه دا متل لږ بل ډول ووایم چې: "د بدو مزل لنډ دی، انجام یې بد دی." نو بده به نه وایم. ځکه درواغ د انسان انتخاب دی چې اطلاق یې په بدو کېدای شي؛ مګر رېښتیا هم د انسان انتخاب دی چې اطلاق یې په ښو کېدای شي.
چې د بدو مزل لنډ دی ولې یې انتخابوو؟ ښه نده چې د ښو په اوږدو لارو اوږده مزلونه وکړو، چې هم مو سفر ډاډمن وي او هم مو منزل له توښې ډک وي.



فکر وکړئ. تاسې یو موټرچلوونکی یاست، تر مخه مو د سړک تر څنګ یو امسا په لاس سپین ږیری ولاړ دی او غواړي له سړکه تېر شي. دلته به ستا د ښه او بد انتخاب څه وي؟ دوه دقیقې صبر کوې، نېکي انتخابوې. که په بې صبرۍ مخ پر وړاندې حرکت کوې، ممکن ستا تګ به کومه بده کړنه هم نه وي.
ومنه چې د ښو انتخاب له دغومره کوچنیو ځایونو شروع کېږي، دا وده کوي او بله ورځ ته د یوه ډېر لوی خیر په انتخاب کې مخکښ انسان جوړېږي.
د ښو انتخاب به تر دې نه وي محدود چې تل دې د نورو لاسنیوی وکړو. بلکې لدې به دا ډېر ښه انتخاب وي چې د نورو د پرمختګ په وړاندې خنډ جوړ نه شو. د نورو د تخریب سبب و نه ګرځو او دا هم بسنه کوي چې د نورو په اړه مثبت فکر ولرو. ښه فکر وکړئ، تر څو ښه انتخاب کړئ، تر څو ښه خلک شئ.

# په ټولنیزو رسنیو روږدیتوب

ټولنیزې رسنۍ نن سبا زموږ د ژوند مهمه برخه جوړوي او د ګټو سره سره زیات زیانونه هم لري چې تاسې ټول به یې حتمن له ګټو او زیانونو خبر یاست خو یوه مهمه موضوع هغه پر ټولنیزو رسنیو روږدیتوب او له حده زیات کارونه ده.
څېړنې ښیي چې د ټولنیزو رسنیو د اعتیاد په وخت کې ګټ مټ لکه د نشه یي توکو د استعمال په شان د انسان په بدن کې د ډوپامین هورمون فعالیږي چې د انسان په مغزو کې لنډمهاله خوښي رامنځته کوي یعنې کله چې یو کس فیسبوک یا نورو پلټ فارمونو ته راځي یا پکې انځورونه او ویډیوګانې نشروي نو لکه څنګه چې یو نشه یي نشه وکړي نو دا هورمون یې فعالیږي د دوی هم دا رقم د ډوپامین هورمون فعالیږي.
اوس پوښته دا ده چې څنګه کولای شو چې دا روږدیتوب او عادت له منځه یوسو؟
د لاندې لارښونو په عملي کولو به ان شاءالله ستاسې د ټولنیزو رسنیو د کارولو میزان کم شي.
**۱: د نوټفکیشن یا خبرتیاوو بندول:** که ستاسې تلیفون ته خبرتیا( نوتفکشن ) راشي نو حتمن ذهن مو دا لیوالتیا پیدا کوي چې هغه وګورئ چې چا درته کوم پیغام پریښی یا بل څه دا د دې لامل کیږي چې تاسې ساعتونه په انلاین نړۍ کې بوخت شئ.

**۲: د سکرین وخت مو کنټرول کړئ.**
هر څه چې په یو حد یا توازن کې وي زموږ لپاره غوره دي؛ په هر حال تاسې کولای شئ خپل د موبایل د سکرین وخت مو محدود کړئ.
د بېلګې په توګه : تاسې وایئ چې زه د ورځې یو ساعت فیسبوک کاروم چې په اونۍ کې اووه ساعته کیږي کله چې د ورځې یو ساعت پوره شو نور نو ستاسې د فیسبوک آپ بندیږي او درته وایي چې یو ساعت مو پوره شو. دا کار ستاسې په موبایلونو کې کیږي او که نه کیدلو د screen time limit په نوم سرچ وکئ او ډانلوډ یې کړئ.




**۳: له خپلو ملګرو او کورنۍ سره مو وخت تېر کړئ:** پدې پوه شئ چې موږ کورنۍ، ملګري او حقیقي ژوند لرو لږ له مجازي نړۍ را ووځئ او دوی ته وخت ورکړئ تر څو د ژوند په مانا او خوند پوه شئ ډېر کله چې ملګري چکر ته ولاړ شي تر هر څه ورته مهم انځور اخیستل وي خو که کله درسره داسې شوي وي چې چکر خلاص شوی وي او انځور ته مو پام شوی هم نه وي نو حتمن به مو له هغه چکره خوند اخیستی وي.

**۴: یو آفلاین شوق پیدا کړئ.**
د بېلګې په توګه د خپلې خوښې ور ورزش پیل کړئ، د ذوق مطالعه وکړئ، د کور په کارونو کې مرسته وکړئ، لیکنه وکړئ، احساسات مو ولیکئ او بل هر هغه کار چې تاسې ته خوښي درکوي ترسره کړئ .

**۵: ټولنیزې رسنۍ د یو انعام په ډول وکاروئ**
موږ ټول دا خوښوو چې د یو ښه کار په وروستۍ برخه کې دې انعام راکړل شئ او تشویق دې شوو، نو ټولینزې رسنۍ هم همداسې وکاروئ د بېلګې په توګه یو تن وایي چې زه یو ساعت مسلسل کار کوم یا مطالعه کوم بیا لس دقیقې له ټولنیزو رسینو ګټه اخلم.

**۶: کله چې ویده کیږئ یا د خوب ځای ته ځئ** نور مو نو ټلیفون له ځان نه لرې کړئ ځکه که چېرته مو د وروستي ځل کتلو لپاره راوخیست نو شاید بیا پکې مصروف شئ او حتا خوب مو هم خراب شي.

**۷: کومې برنامې چې نه استعمالوئ پاکې یې کړئ**
که د ټولنیزو رسنیو مختلف پلټفارمونه کاروئ لکه فیسبوک، واټسپ، ټیک ټاک، انسټاګرام او نور ...
او انسټاګرام مو تېرو دوو اونیو کې نه وي کارولی نو هغه پاکې کړئ ځکه که چېرې له هغه کوم نوټفکیشن یا خبرتیا راشي نو بیا ورسره عادت کېږ ی.

**۸ : ساده موبایل واخلئ**
د ځیرک موبایل پر ځای د زنګ لپاره ساده موبایل وکاروئ او ځیرک تلیفون مو ډېر وخت ځان سره مه ګرځوئ.

**۹: ټولنیزې رسنۍ په مکمل ډول پرېږدئ.**
پورته ټولې لارښوونې ددې لپاره وې چې څنګه د ټولنیزو رسنیو استعمال محدود یا کنټرول کړو خو که کار یې ورنکړ نو په مکمل ډول یې بند او ټول پاک کړئ یو څه وخت وروسته به بېرته عادي شئ او له حقیقي ژونده به خوند واخلئ.

Newspaper
Marif
Weekly

مسئول مدیر: سعید «جلال»
کتنپلاوی: الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعیب «حقیقی»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوری»
محمد اشرف «رسولی»

ډیزاینر: محمد قسیم «یعقوبی»
تیراژ: ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت
**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را
جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکي شمېره: ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 285 /2024

# میدان وردګ ولایت کې د یو باب دارالایتام د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د میدان وردک ولایت په مرکز میدان ښار کې د امام ابو حنیفه (رحمةالله علیه) په نوم د یو باب دارالایتام د ودانۍ د جوړېدو د بنسټ ډبره د چارو اداري د لوی رئیس محترم شیخ نور الحق انور، د میدان وردک والي محترم قاري بختیار معاذ، د پوهنې رئیس محترم مولوي محمد عثمان حریت، د سیمه ایزو مسئولینو او د یاد ولایت د یو شمېر محترمو علماءکرامو په ګډون کېښودل شوه.
په پام کې ده چې د یاد دارلایتام ودانۍ به په ۸ جریبه ځمکه کې جوړه شي چې د نورو اړینو ملحقاتو تر څنګ به یو محراب جومات هم ولري.
د پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو له مخې د یاد دارالایتام د ودانۍ په جوړېدو شاوخوا ۵۶ میلیونه او ۸۰۰ زره افغانۍ لګښت راځي چې ددې ولایت د ملي سوداګرو، مجاهدینو او د معارف دوسته وګړو لخوا ورته مرسته شوې.
په دې تړاو په جوړه شوې غونډه کې مسئولینو د خپلو خبرو په ترڅ کې د هېواد د بچیانو په ځانګړې توګه د یتیمانو او بې وزله ماشومانو د سالمې روزنې او پالنې په برخه کې د افغانستان.ا.ا. د پوهنې وزارت د هلو ځلو په هکله خبرې وکړې او د ښوونیزو بنسټونو ټولو کارکوونکو او استادانو ته یې لارښوونه وکړه، تر څو د هېواد راتلونکی نسل په اسلامي روحیه وروزي.
نورو ویناوالو هم په هېواد کې د ښوونیزو مرکزونو د پراختیا او د خپلو ماشومانو لپاره د زده کړو د آسانتیاوو برابرولو په برخه کې د پوهنې وزارت له پاملرنې مننه او قدرداني وکړ.

# رئیس جدید حفظ املاک و مراقبت تعمیرات وزارت معارف معرفی شد

محترم مولوی سمیع الحق حماس به حیث رئیس جدید حفظ املاک و مراقبت تعمیرات وزارت معارف از سوی محترم الحاج مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و اداره وزارت معارف معرفی و به کارش آغاز کرد.
معین منابع و اداره وزارت معارف در مراسم معرفی رئیس جدید حفظ املاک و مراقبت تعمیرات این وزارت، تغییرات وجا بجایی کادرها را در ادارات یکی از اصول اداره دانسته و ضمن تبریکی به رئیس جدید حفظ املاک و مراقبت تعمیرات وزارت معارف از کارمندان آن ریاست تقاضا نمود تا در اجرای وظایف محوله خویش با نهایت دلسوزی و صداقت کوشش نمایند.
سپس محترم مولوی سمیع الحق حماس رئیس جدید حفظ املاک نیز از اعتماد رهبری وزارت معارف قدردانی نموده، تعهد سپرد که با تمام توان و با استفاده از تجارب کاری خویش در جهت تطبیق هدایات و برنامه های وزارت معارف تلاش می نماید.

# د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین د کابل ولایت له پوهنې ریاست څخه لیدنه وکړه


د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق د اداري او تدریسي وضعیت ارزونې په موخه د کابل ولایت پوهنې ریاست له بېلابېلو څانګو څخه د لیدنې تر څنګ له مسئولینو او آمرینو سره هم وکتل.
د پوهنې وزارت معین مسئولینو او کارکوونکو ته لارښوونه وکړه چې ورسپارل شوې دندې په صادقانه توګه ترسره او د هېواد بچیانو لپاره د زده کړو آسانتیاوې برابرې کړي.
همدارنګه نوموړي له اړونده چارواکو سره د ځینو ستونزو لکه د پوهنې ریاست لپاره د مناسبې ودانۍ نشتوالی او د اداري اسنادو دخوندي کولو په تړاو نظرونه خبرې وکړې او د حل په برخه کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه.

# بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د شهادتنامو د رئیس سفر

د پوهنې وزارت د شهادتنامو محترم رئیس مولوي عبدالقدیم محمد آخندزاده بدخشان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د پوهنې ریاست له مسئولینو په ځانګړې توګه د نتایجو او شهادتنامو څانګې له آمرینو او مدیرانو سره وکتل.
په دې کتنه کې د پوهنې وزارت د شهادتنامو رئیس د تعلیمي خدمتونو په وړاندې کولو کې د کیفیت په لاښه والي او د نتایجو د تائید په بهیر کې د روڼتیا پر اهمیت ټینګار وکړ او یادونه یې وکړه چې د دغو خدمتونو په وړاندې کولو کې سرعت او دقت ځانګړې اهمیت لري.
همدا راز په دې لیدنه کې پریکړه وشوه چې د بدخشان ولایت د پوهنې ریاست به د کوف آب، شکي، نسي، مایمي، شغنان، واخان، خواهان، یمګان، یاوان، کوهستان، راغستان، کران او منجان ولسوالیو اړوند د عمومي زده کړو او اسلامي زده کړو د نتایجو جدولونه د نهایي تائید په موخه مرکز ته واستوي.
په پای کې د بدخشان ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو ژمنه وکړه چې د نتایجو او شهادتنامو د صادرولو په برخه کې به ټول اقدامات په دقت او په ټاکلي وخت ترسره او مرکز ته به یې استوي.

# بلخ ولایت کې یو باب دیني مدرسه پرانیستل شوه

د بلخ ولایت دهدادي ولسوالۍ اړوند په شیر آباد کلي کې یو باب دیني مدرسه د یوې غونډې په ترڅ کې د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم مفتي ابو عاصم محمد شریف عثماني او د یو شمېر ادارو د مسئولینو او محترمو علماء کرامو له لوري پرانیستل شوه.
د بلخ ولایت د پوهنې رئیس د هېواد د ماشومانو لپاره د زده کړو د آسانتیاوو برابرولو په اړه وویل: دغه دیني مدرسه د یادې ولسوالۍ د سوداګرو او د سیمې ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته د یو مېلیون ۲۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړه شوې او ځمکه یې هم د ځایي سوداګرو او خلکو په مالي ملاتړ د یو مېلیون ۳۰۰ زره افغانیو په ارزښت پېرل شوې او د پوهنې ریاست په واک کې ورکړل شوې ده.
په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو د یادې دیني مدرسې په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او یاده مدرسه یې ددوی د اولادونو په اسلامي روزنه کې اغېزناکه وبلله.
دوی د هېواد له نورو سوداګرو او پانګوالو هم وغوښتل چې د مدرسو او ښوونځیو په جوړولو کې هر اړخیزه مرسته وکړي.
د پوهنې وزارت رهبري د هېواد له پوهنیز نظام سره د خلکو په ځانګړې توګه د بلخ ولایت د دهدادي ولسوالۍ د اوسېدونکو له ملاتړ او مرستو مننه کوي.
د یادولو وړ ده چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې زیات شمېر هېوادوالو او ملي سوداګرو په ورته اقدام لاس پورې کړی او په خپلو سیمو کې یې د مدرسو او ښوونځیو په جوړولو کې مالي مرسته کړې چې د پوهنیز نظام د ودې په موخه ددوی مرستې او ملاتړ د خلکو او پوهنې وزارت له تود هرکلي سره مخ شوی.




# سفر هیئت ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف به ولایت های خوست و پکتیکا

به منظور تطبیق هرچه بهتر فرامین ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف هیئتی به سرپرستی محترم مولوی محمد نعیم عمیر عازم ولایت خوست شد.
در گردهمایی که به همین منظور در ریاست معارف ولایت خوست راه اندازی شده بود برعلاوه محترم مولوی فیض الله جمال حقانی رئیس معارف، شماری زیادی ازمسئولین ریاست معارف استادان، علماءکرام، مدیران مکاتب و نماینده گان مردم آن ولایت شرکت کرده بودند.
مراسم با قرائت آیاتی از کلام الله مجید آغاز شده سپس رئیس معارف ورود هیئت ریاست دعوت و ارشاد را به آن ولایت خوش آمدید گفته و در سخنان شان از کارکرد های ریاست معارف ولایت مربوطه در پیوند به تطبیق هدایات و فرامین دعوت و ارشاد صحبت نموده، تصریح کرد: فرامین و هدایاتی که از جانب مقام عالی رهبری امارت اسلامی به ما توصیه می شود در حقیقت اوامر الهی است که ما به تطبیق آن ملزم می باشیم.
در ادامه سایر سخنرانان نیز پیرامون احکام دین مقدس اسلام و احادیث نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) در رابطه به اصلاح جامعه صحبت نموده، اطاعت را بنیاد عبادات دانسته و از شاگردان و جوانان خواستند تا صورت و سیرت شان را به سنت های پیامبر گرامی اسلام، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) برابر سازند.
همچنان هیئت متذکره به ولایت پکتیکا سفر نموده و در گردهمایی که از سوی محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف آن ولایت با اشتراک ده ها تن از استادان، آمرین برنامه‌ها، کارمندان اداری و تدریسی ریاست معارف آن ولایت راه اندازی شده بود اشتراک نمود.
در این گردهمایی صفحه۲

# د ساینس مرکز رئیس لوګر ولایت ته ولاړ

د پوهنې وزارت د ساینس مرکز د رئیس محترم استاد حبیب الله خالد تر څارنې لاندې د یاد ریاست د کارپوهانو پلاوی د لوګر ولایت د مرکز او ولسوالیو د رسمي او خصوصي تعلیمي مرکزونو د لابراتوارونو د کتنې او ارزونې په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.
یاد پلاوي د لوګر ولایت پوهنې رئیس الحاج عبدالرحمن حمیدي سره په لیدنه کې د لابراتوارونو معیاري کول، د ښوونځیو د لابرانت ښوونکو ترمنځ د تجربو تبادله، په رسمي او خصوصي ښوونځیو کې د کمپیوټر ټولګیو فعالول له خپلو اساسي موخو څخه وبلل.
د لوګر پوهنې رئیس راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست په ترڅ کې ژمنه وکړه چې د دوی د سفر د پلانونو په پلي کولو کې به له دوی سره هرارخیزه همکاري کوي.

**په هره ټولنه کې یوازې یوه ډیوه شته چې هر چاته روښنایي ورکوي، هغه ښوونکی دی.**